ع، شیرزوی

۲۰۱۶/۰۲/۲۸

# د پښتو ژبې تاریخي شا لید

## څلورمه برخه

ب: نا اوښتونکې (غیرمتصرفه) ژبې:

دا ژبې کلک او جامد اصول لري، چې په بنا یې کورت تغیر نه راځی او د ځینو ادواتو په نښلولو سره اشتقاق ځیني کیږي چې دغه ادوات ځانله معنا هم نلري او اصول یې بې اوښتلو پاتیږي، تورانې ژبې چې یوه یې تورکې او هم مغولي ژبې چې تنقاسي، او غزالي، اوزبکي یې ځانګې دي ټولې نا اوښتونکې ژبې ګڼل کیږي.(حبیبي عبدالحی، د پښتو د ادبیاتو تاریخ لومړی او دویم ټوک، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ل/۲۰۰۵/ص ۲۶/۲۷/۲۸)

د تاریخ په مختلفو وختونو کې د څیړنې او تحقیقاتو په بهیر کې ډیر زیات بحثونه شویدي او د نړۍ کوټ کوټ ژب پوهان او نسل پیژندونکې پر دي خبرې څیړنې کوي، چې انسان څه شی دي؟ او څنګه د انسانیت مرحلی ته رسیدلي دي؟ په هر صورت دا خبره به د انترو فولوژی (انسان پیژندنه) علم ته پریږدو، چې هماغه علم پردې څیړنه وکړي د نسلونو او قومونو په باب خپل معلومات وخیږي، که د انسانانو پر مخ تللې ټولنه تر نظر لاندې ونیسو نو دا پوښتنه رامنځ ته کیږي چې څرنګه دومره ډیرې ژبې او ډیر کلتورونه رامنځ ته شوي دي که نوموړی تاریخ د هغه وخته چې د کلتور او بیا د ژبې اړوند څیړنه ده نو زمونږ کار هم لنډیږي او هم مو موضوع ټاکل کیږي، دلته پوښتنه د ژبې ده، انسانانو چې انسانې ژوند راپیل کړیدي د هغه تاریخ د میلاد څخه زرګونه کاله مخکې دی، ولی دا انسانی هغه تاریخ دی چې انسان په پشپړه توګه د فرهنګ په یوه لوړ پړوا کې ژوند کوي، افزار به کار اچوي، کورنۍ جوړوي او حتی د فلزاتو څخه کار اخلي.

خو د تاریخ څخه د مخکې پړاو تر منځ په سونو کلونو واټن شتون لري. په همدي ډول انسانانو چې په مختلفو سیموکې ژوند راپیل کړیدي خو هلته تر پایه هم ندي پاتي شوي د یوې سیمې څخه و بلې سیمې ته د ډول ډول پیښو او عواملو په سبب مهاجر شویدي او د ځان سره یې د یوې او بلې سیمې کلتور، زده کړې او نورې انسانې پوهې رانقل کړي دي، او د نړۍ په کوټ کوټ کې د محیطي شرایطو سره ژوند راپیل کړیدی پدې باب یو نامتو ډنمارکې ژبپوه (رسمیزرسیک) په ۱۷۸۷/ ۱۸۳۲ کې لیکي: (که مونږ و غواړو چې د یو قوم او یا یوې سیمې د انسانانو تاریخ او د هغوي پیژندنه وکړو نو لازم ده چې د هغه خلکو ژبه تر مطالعې لاندې ونیسوچې به تاریخي لحاظ هغه پیدا کړو، او د هغه په باب علمی دلایل وړاندې کړو د مقایسوي ژب پوهنې د علم په مرسته مونږ دا معلومه کړه چې د پښتو د ژبې تاریخي اړیکې د سنسکریت، اوستا، فارسي، عربي، هندي، اروپایې او نورو مغولي ژبو سره څنګه دي؟ څو مونږ دې پایلې ته ورسیږو چې پښتو ژبه څومره لرغونې او په مقایسوي لحاظ د ژبو په کوم ګروپ کې اړه لري) پدې باب یو جرمني ژبپوه ښاغلي (ډی جینش ) د« ۱۷۹۴ م » دغه خبره وڅیړو چې ژبه په یوه تاریخي او زماني مقطع کې خپل ځانګړې کلتور، آدبې طرز، لغاتونه، د پیښو انعکاسات او داسې نورپه خپل ځان کې لري او ساتي یې.

ښاغلي «جینش» د ژبې د مقایسي په لړ کې دغه څلور توکې د پام وړ ګڼي او د هغې له مخې د ژبې مقایسوي اړیکې پیژندل کیداي شي.

۱/ د لغاتو بدلون د یو ډول څخه وبل ډول ته.

۲/ صرف او نحوه په ساده توګه د جملو جوړښتونه.

۳/ په ژبه کې صفایې او قاطیعت په ساده ډول د ژبې سمبولونه.

۴/ آهنګ په ساده ډول، هره ژبه ځانته آهنګ او وزن لري.د لا زیاتو معلوماتو له پاره وګورئ:(پیلوزی، خپلواکه،ادبي،اسلامي، فرهنګي،او ټولنیزه خپرونه، دریم کال، شپږمه ګڼه،غبرګولی،چنګاښ، زمری، ۱۳۹۰ لمریزکال ص۵/ ۶)

نو په پورته تحلیل سره یو ځل بیا مونږ د پښتو په باب دا ویلی شو چې نوموړی ژبه د لغاتو د جوړښتونو له مخې یوه غنی اوپه سیمه کې یوه بې ساراو له ګرامر له مخې یوه بشیړه لرغوني ژبه ده. پدې باب ښاغلي سلطان محمد صابر په خپل کتاب (قدیم پښتو او پښتون) کې داسې لیکي:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

چي په پښتو ژبه کې بشپړګرامر پروت دي او د هر حالت او نوم د پاره لغات او جوړوني لري، چي د سيمي په نورو مشهورو ژبو کې لکه فارسي او اوردو کې شتون نه لري. د بيلګې په توګه: هغه د مونث او مذکر په دوو حالتو کې بيلګې راوړي لکه څرنګه چي په فارسي ژبه کې وايي (آمد) په بشپړه توګه دا واضيح نشوله چي نر راغي او که ښځه؟ نو حقيقت بيا هغه وخت څرګنديږي چي په سترګو باندي وګوري چي نر دي او که ښځه؟ خو په پښتو کې د دواړو حقيقت څرګند دي، چي نوموړې څرګندوني د الفاظو غنا ګنل کيږي او په ډير آسانی سره مفهوم ور څخه تر لاسه کيداي شي. ژبپوهان پدي باور دي چي ژبه په تاريخي لحاظ د پيړيو، پيړيو محصول او په پيړيو وختونه غواړي چي بشپړه او پوخوالي مرحلي ته ورسيږي. په اوسني پښتو، فارسي، بلوڅي چي آريايي ژبې دي چي آريانا ته يې يو وخت آريانا ويجه ويله.

(استرابو په ۲۴۰ ق م) په خپل جغرافيه کې د آريانا حدود داسی تعينوي د ختيځ سرحد يې اباسين، جنوب ته د هند بحر، د لويديځ خواته کرمان او ايران، شمال لور ته تر باکتريا او سغيدان ځيني برخې شاملی بولي.( پيلوزی، خپلواکه، ادبي، اسلامي، او ټولنيزه خپرونه، دريم کال،شپږمه ګنه غبرګولی، چنګاښ،زمری، ۱۳۹۰ لمريز ص۶/۷)

د ډيرو ثقه دلايلو او لرغونو اسنادو له مخې پښتانه د دي سيمي اوسيدونکي وو او شتون يې په همدغه ځای کې ثابت دی. لکه څرنګه چي پدې باب يوناني پوه هيروډوټس Herodote په ۴۰۰ ق م کې د پکتيان او پکتيوس څخه يادونه کوی هغه ليکي: هغه خلک چي په پکتيا، پکتيکا کې اوسيږي، هغه غښتلي، دلاوره، ملمه پالونکي، جنګيالي خلک دي. په دې باب «استرابو» يادونه کوي چي د پارس حينۍ برخي د سغيدان، باکتريا ځيني برخي هم په پښتنو پورې تړلي وي او پښتو ژبه يې ويله.پښتو يواځي ژبه نه بلکې پښتانه يو غټ اتنيکي قوم، رواج، اخلاق قوانين او ځانګړې عنعنات دي چي په ټولنيز ډول پښتو او پښتانه ورته وايي، دلته د تاريخي ژب پوهني پر بنياد ځيني لغاتونه لمړی په پښتو کې را پيدا شوي دي او بيا نورو همسايه ژبو ته ورنقل شوي دي چي په همدغه ډول ويلي شو چي د فارسي او سنسکريت ژبو تر منځ د نښلولو مزی پښتو ژبه ده. چي په دې معنا د آريايانو ډيره لرغوني ژبه ده چي د سيمي په سطحه يې مونږ اړيکي ليدلي شو«هيروډيټس» ۴۴۵/ق م کي او بيا «استرابو» ۲۴۰ ق م خپل نظر داسي وړاندي کوی:

هغه کسان چي د هندي تهذيب او فارس تر منځ ژوند کوي هغه پښتانه دي چي دغه دوه مدنيتونه سره نښلوي او تر منځ يې اړيکي ساتي د دوی تر منځ د لغاتو نږدي والي، د متلونو او نورو فلکلوريکو اړيکو درلودل د دې معنا لري، چي د پښتنو سيمه د هند او فارس تر منځ واقع او يو پر بل يې خپلې اغيزې پريښي دي. که چيري مونږ د فارسي، پښتو او سنسکريت ژبو ته د مقايسوي ژب پوهني له نظره پاملرنه وکړو نو مونږ ته به را جوته شي چي پښتو هم د سنسکريت، فارسي، ژبو په څير يوه لرغوني او د ميلاد څخه زرونه کلونه په ځان کي لري. ژب پوهانو مقايسوي پوهه د تاريخ د هغې دورې څخه را پيل کړيده چي دوي يې په ليکلي ډول اسناد پلاس لري چي د همدغه ژبو له ډلي څخه اوستايي، سنسکريت، پښتو او لرغوني پهلوي ژبې دي پدې کې هم شک نشته چي د پورتنيو ژبو څخه مخکي هم ژبو شتون درلود، او د پوهولو راپوهولو وسيلي به وي نوموړې ژبې هم د هغه ژبو څخه جوړې شوي او منځ ته راغلي دي خو هغه زمانه زرګونه کاله وړاندې زمانه وه او مونږ ته يې شوني په ليکلي توګه ندي راپاتي شوي چي تر اوستا او يا هم تر سنسکريت مخکي به مور او انا ژبه څه نوميده او انسانانو به کومه ژبه استعمالوله او پدې وخت کې به انسانان څه ډول وو.

خو مخکي ترهغه چي نور آريايي قومونه د يخ بنده سيمو څخه ځيني خلک او قومونه دلته راکډه شي دلته انسانان موجود وو او د مغارو ژوند يې تيراوه چي نوموړی موضوع تر ډيره ځايه د انترپولوژی پورې تړلي ده خو هغه وخت چي ليکنه رامنځ ته شوه د اوستا او سنسکريت سرودونه د غوايي پر څرمنو وليکل شول، تاريخي اسناد مونږ ته پلاس راغلل نو تاريخ د سيمي هم له همدغه ځايه څخه نيولي شو او مونږ خپله ثقه دلايل راوړلي شو چي دلته ژوند څه ډول و، دوي کومي ژبې ويلي؟

پدې کې هيڅ شک نشته چي د انسانانو تاريخ پنځه زره کاله په باختر زمين کي په نظر کي نيسو په همدغه ځمکه چي اوسني افغانستان دي پښتانه اوسيدل او پښتو ژبه يې ويله.

ماخذونه:

پوهاند: حبيبي عبدالحی، د پشتو د ادبياتو تاريخ، لومړی او دويم ټوک، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ل ص۳۹/ ۴۰ / ۴۲ / ۳۴۰/ ۴۴۴/ ۴۴۸ ۸۰ / ۸۱.

استاد: کهزاد احمد علی، افغانستان د تاريخ په رڼا کې، دانش خپرندويه ټولنه، کب، ۱۳۷۹/ مارچ ۲۰۰۱ م ص ۳۲/ ۳۳/ ۳۴.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په څير و لولئ

پوهاند: حبيبي عبدالحی، د پښتو د ادبياتو تاريخ، لومړی ټوک،دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ / ۲۰۰۵ م ص ۳۵/ ۳۶ / ۲۶/ ۲۸.
پيلوزی: خپلواکه، ادبي، اسلامي، او ټولنيزه خپرونه، دريم کال، شپږمه ګڼه، غبرګولی، چنګاښ، زمری، ۱۳۹۰ ل ص۵/ ۹.
ميشل مالرب،زبان های مردم جهان، شرکت انتشارات علمي و فرهنګي، چاپ نخست، ۱۳۸۲ صفحات ۳/ ۶/ ۹.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ